مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۱/۱۶

شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه

پنځم فصل

شپږ پنځوسمه برخه

دوهمه ضمیمه

جوسیا هارلان، افسانه او واقعیت

د امیر دوست محمد خان او د هغه د زماني له پیښو سره د دغه امریکایي نوم تړلی او په بېلو بېلو تاریخي متونو کي یاد سوی دی. د هارلان په باره کي ځکه یوې روښانوونکي لیکني ته ضرورت دی چې د هغه د خاطراتو په باب د بین مکنتایر یو کتاب، چې په ۲۰۰۵ کال کي یې لیکلی دی، داسي پیښو ته اشاره کوي چې د جوسیا هارلان په اصلي خاطراتو کي نسته؛ او څرنګه چې دا خاطرات د افغانستان د نونسمي پېړۍ له هغو پیښو سره، چې زموږ د کتاب موضوع ده، اړه لري نو ځکه یې راوړل لازم دي.

جوسیا هارلان لومړنی امریکائي دی چې افغانستان ته تللی او د دې هیواد په باره کي یې خپل خاطرات لیکلي دي. دی د ۱۸۳۹ کال د اکتوبر په میاشت کي له افغانستان څخه تللی او په ۱۸۴۲ کال کي یې، په امریکاکي، خپل خاطرات چاپ کړي دي. وروسته، د ده د خاطراتو په اساس، د فرانک روس په نوم یوه انګرېز لیکوال، په ۱۹۳۹ کال کي یو کتاب لیکلی او چاپ کړی دی. وروستنی کتاب، بیا هم د ده د خپلو خاطراتو په اساس، یوه امریکائي لیکوال بین مکنتایر وربادي ولیکی چې په ۲۰۰۴ کال کي یې په امریکا کي چاپ کړ. دا چې ولي موږ د دې دریو واړو کتابونه نومونه اخلو، خبره او ستونزه په دې کي ده چې دا درې واړه کتابونه یو له بله سر نه سره خوري. او هغه معلومات چې کابل ته د انګرېزي پوځ د ننوتلو یعني د ۱۸۳۹ کال د اګسټ په میاشت کي یې له انګرېزانو سره ملګری خبر لیکونکی را کوي، د ده له خاطراتو سره توپیر لري.

د هارلان په باره کي به، په لنډ ډول ووایو چې هغه په ۱۷۹۹ کال کي زیږېدلی او په ۱۸۲۲ یا ۲۳ کي یې د هند خواته سفر پیل کړی دی. سره له هغه چې د طب په برخه کي یې هیڅ ډول تحصیل نه وو کړی او ویل کیږي چې د خپل مشر ډاکټر ورور ځیني کتابونه به یې په شخصي ډول لوستي وي خو په کلکته کي د انګرېزانو د شرق الهند په کمپنۍ کي د جراح د مرستیال په حیث شامل سو او ځکه نو په ډاکټرهارلان مشهور سو. (راس ص ۹)

د انګرېزانو له پوځ سره یې درې کاله خدمت وکړ. د برما او انګرېزانو په جنګ کي یې برخه واخیستله؛ او د دغه جنګ له پای ته رسېدلو سره یې په ۱۸۲۶ کال کي له پوځي خدمت څخه استعفی وکړه.

جوسیا هرلان افغانستان ته راغی. په دې هیواد کي یې له یو کال تېرولو څخه وروسته د سیکهانو له پاچا رنجیت سینګه سره خدمت غوره کړ. د هغه سره له کار کولو څخه هم راضي نه وو او بیرته په ۱۸۳۶ کال کي کابل ته ولاړ او د امیر دوست محمدخان سره یې د یوه جنرال په حیث وظیفه غوره کړه.

په هغه کتاب کي چې هارلان پخپله لیکلی دی؛ په لومړیو فصلونو کي د افغانستان پر تاریخ باندي لنډ بیان، د برتانوي هند او روسیې د رقابت او راتلونکي په باره کي تفصیلات او په کابل کي، له امیر دوست محمدخان سره، د ده د اوسېدلو په باره کي خبري راغلي دي.

د ۱۲۴ او ۱۲۵ مخونو په حاشیه کي لیکي چې د سیکهانو او افغانانو د ۱۸۳۴ کال د جمرود په جنګ کي، ده ته رنجیت سینګه وظیفه ورکړه چې د دوست محمدخان او د هغه د ورونو ترمنځ بې اتفاقي واچوي او دوست محمدحان کمزوری کړي. ده هم دا کار وکړ. سلطان محمدخان یې، له لسو زرو عسکرو سره، له دوست محمدخان څخه بېل کړ او امیر دوست محمد خان په نتیجه کي ماته وکړه.

نور نو هارلان له رنجیت سینګه سره د خپل خدمت په باره کي څه نه وایي.دا هم نه وایي چې له هغه سره یې کله خدمت پیل او کله او ولي یې ختم کړ.هارلان له شاه شجاع سره د پېژندګلوی او د هغه لپاره د خدمت په باره کي هم څه نه وایي. د افغانستان شمال ته د خپل اوږده او له خطرونو ډک سفر په باره کي یې هم څه نه دي لیکلي. دا د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

هارلان د ژوند داسي پيښي دي چي ده هېرولای نه سوای او که يي زيات تفصيل نه ورکاوه نو لږ څه خو يي بايد ويلي وای.
د هارلان د خپلو خاطراتو له خپرېدلو څخه څه باندي نيوي کاله وروسته، انګرېز ليکوال فرنک اي راس، د هارلان د خاطراتو په اساس يو کتاب وليکی. په دي کتاب کي يوازي د هارلان د هغه له خطره ډکو سفرونو په باب بيان راغلی دی چي هغه د هندوکش شمال ته کړي دي. د دې کتاب په ۱۴۳ مخ کي، يوه داسي د نه منلو کيسه راغلې ده چي ښايي پخپله هارلان ته به هم د منلو نه وه او هغه دا چي دی وايي د هزاره واکمنانو له ده څخه وغوښتل چي په غرونو کي د هغوی په کورونو کي ورسره وګوري. دی وايي چي د هزاره ګانو لوی مشر محمدرفيع له ده سره يو پټ تړون کړی وو. دا تړون يي د قرآن شريف پر يوه پاڼه ليکلی او لاسليک کړی وو او د ده پير يي ضمانت کړی وو. په دې تړون کي راغلي وه چي د ده تر واک لاندي سيمي عايدات به په ما اړه لري او دی او د ده قبيله به زما تابع وي او دی او د ده وارثان به زما د وزارت مقام لري. د ده د سيمي مطلق حکومت ما او زما وارثانو ته را سپارل سوی وو. البته دا ټول ترتيبات پر افغانستان باندي د انګرېزانو د يرغل سره ګډ وډ سول. (راس ص ص ۱۴۳-۴۴)
هارلان وايی کله چي زه په لاهور کي وم نو شجاع الملک ما ته خلعت او د انيس الدوله و حضور لقب راکړ او دغه راز يي د کابل په جنوب کي د ګُرم د پراخي او شته مني وادي عايدات را سره ومنل او په دې توګه ګواکي زه د ګُرم نواب سوم. او په شمال کي د غوري واکمن سوی وم.
وروسته وايي چي ما په کابل کي د انګليسيانو استازي ته يو غير مستقيم پيشنهاد وکړ مګر د هغه له بې پرنسيپه مرستيال سره مي، چي زما له نفوذ څخه ببرېدی، جوړه نه سوه او د انګرېزانو سره مي کار کول خوښ نه سول.
هارلان وروسته ليکي چي د نواب زمان خان له خوا يي مکناټن ته درخواست ورکړ او اعليحضرت هم د مکناټن په غوښتنه يو فرمان لاسليک کړ او نواب ته يي په کابل کي د اوسېدلو اجازه ورکړه او نواب زما په غوښتنه د غلجيو لويه قبيله له جنګ جګړو څخه منع کړه او حتی هغوی ته يي وويل چي د شاه شجاع حکومت به نه تهديدوي. خو انګرېزان پر خپله وعده ونه درېدل او نواب يي په کور کي نظر بند کړ. (راس ص ۱۴۴)
هارلان دا نه وايي چي ده څه کمال درلود چي شاه شجاع د انيس الدوله لقب، خلعت او د ګُرم د پراخي او شته مني وادي عايدات وربخښل.
دا خو لا په هر صورت؛ خو کله چي د ۱۸۳۹ کال د اګسټ په مياشت کي کابل ته د انګرېزي پوځ د داخلېدلو په وخت کي د انګرېزانو د خبر ليکونکي رپوټ لولو نو د جوسيا هارلان ټولي ادعاوي پو چي ثابتوي. خبرليکونکی د اګسټ پر اوومه ليکي:
«... موږ چي کابل ته ورسېدلو نو په هغه ښار کي يوازي يو اروپائي وو؛ د هغه نوم هارلان دی او اصلا امريکائي دی. دی د دوست محمد په پوځ کي د يوه کنډک قوماندان وو. دوست محمد خان په خبر سو چي هارلان د خپل کنډک د عسکرو په تنخوا کي اختلاس کړی دی. دی يي بندي کړ او شکنجې يي ورکړې. يوې معتبري افغاني مېرمني د ده چيغي اورېدلي وې او له خپل مېړه څخه يي غوښتي وه چي امير ته د دغه سړي شفاعت وکړي. ويل کيږي چي دغه سړی زمان خان وو چي هارلان يي له امير څخه خلاص کړ. (مهرا لومړی جلد ص ص ۲۰۴-۲۰۵)
دغه رپوټ د هارلان ټولي لويی ادعاوي، چي وايی امير دوست محمدخان به هميشه دی پر خپل ښي اړخ باندي کښېناوه او ده د هغه په پوځ کي د جنرال وظيفه درلوده او يا يي د نواب زمان خان شفاعت کاوه، بې اساسه ثابتوي.
د افغانستان په باره کي د هارلان لومړني خاطرات، چي ده پخپله په ۱۸۴۲ کال کي، چاپ ته سپارلي دي له هغو خاطراتو سره چي راس په ۱۹۳۹ کال کي چاپ کړي دي او دا دوهم ځل خاطرات په خپل نوبت له هغو خاطراتو سره چي مکنټاير په امريکا کي په ۲۰۰۵ کال کي چاپ کړي دي ډېر ژور توپير لري. داسي ښکاري چي هارلان پخپله په امريکا کي، په مختلفو وختونو کي چورتونه وهلي او خپل خيال پلوونه يي، وخت په وخت، ورباندي زيات کړي وي. ځکه چي په لومړي او دوهم کتاب کي د شاه شجاع سره د ملاقات کولو او د هغه د تشويقولو او قانع کولو په باب او کابل ته د سفر کولو او په هغه ښار کي د دوست محمدخان پر ضد د يو کال پټو فعاليتونو په باره کي هيڅ ذکر نسته.
هارلان په ۱۸۲۶ کال کي د انګرېزانو له پوځ سره عسکري خدمت پرېښود او په همدغه کال يي په لوديانه کي د برټانوي هند د حکومت د استازي کلاډ ويد او وروسته له شاه شجاع سره وکتل. هارلان بايد په دغه وخت کي اووه ويشت يا اته ويشت کلن ځوان وي. دی شاه شجاع ته وايي چي غواړي په کابل کي د ده طرفداران د دوست محمد خان پر ضد تحريک کړي. وروسته پخپله لوديانې ته راسي او زر تنه عسکر برابر کړي او بيا د شاه شجاع له نور پوځ سره پر افغانستان باندي حمله وکړي. په دغه وخت کي به په کابل کي د شاه شجاع طرفدارانو، د ده په ګټه پاځون پيل کړی وي او دوست محمدخان به هم له پاځون او هم د هارلان له پوځي حملي سره مخامخ سي او ماته به وخوري. شاه شجاع هارلان ته وايي چي که ته په دغه اقدام کي بريالی سوې نو ما ته يوازي د ژمي او اوړي پايتخت را پرېږده نور دي ټول قدرت ستا وي. (مکنټاير ص ص ۳۱-۳۲)
شاه شجاع، چي له شپږ کلنی څخه په عملي سياست کي لوی سوی او ځلوېښت کاله يي د ژوند هر ډول لوړي او ژوري ليدلي دي. ضمناً يو باسواده شاعر او عالم سړی دی. د دغه اووه ويشت کلن ځوان په خبرو، چي نه يي په

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ژوند کې ليدلی او نه يې د هغه کومه اعتماد نامه ليدلې ده، باور کوي. او هغه ته دونه امتياز ورکوي چې په حقيقت کې خپله پاچهي وربخښي. او پخپله هارلان هم دا نه وايي چې له ده سره څه کمال موجود دی چې د ده په خوله د شاه شاجاع ټول طرفداران د امير دوست محمدخان په مقابل کې را پاڅيږي او پخپله چې ورسره مخالف دي د پاڅېدلو لپاره هيڅ شعور نه لري.

د مکنټاير کتاب په دغه ناممکن مجلس پيل کيږي او نور نو ټول کتاب، چې يقيناً د هارلان پر خوبونو او خيال پلوونو ولاړ دی، له يوه ناممکن څخه بل ناممکن ته حرکت کوي.

هارلان، د شاه شجاع له طلاوو او روپيو سره له لوديانې څخه بهاولپور ته ځي او له هغه ځايه تر پېښور پورې د صاحبزاده په نوم، چې اميرالله يې د مريد په توګه ورسره روان کړی دی، په کليو او بانډو کې حرکت کوي. البته خلک دونه بې عقل دي چې فقط د صاحبزاده نوم اوري، پرته له دې چې دی دي وپيژني، خيراتونه او نذرونه ورته راوړي او دعاوې ورڅخه غواړي. دا په داسي حال کې ده چې هارلان په يوه شرقي ژبه هم نه پوهيږي او له اسلام څخه خو طبعاً بې خبره دی.

هارلان په پېښور کې له يوه پير سره ويني او وروسته له يارمحمدخان او سلطان محمدخان سره ملاقات کوي. په پېښور کې له يو څه وخت تېرولو څخه وروسته، د لوګرله لارې، کابل ته ځي. سيده د کابل بالاحصار ته ځي او هلته په يوه ښکلي خونه کې ځای ورکول کيږي. شپږمه ورځ له امير دوست محمدخان سره ګوري. دوست محمدخان، پرته له دې چې د هارلان اعتماد نامه يا کوم معرفي خط دې وګوري له هغه سره سياسي بحثونه کوي. هوښيار دوست محمدخان د دې اته ويشت کلن ځوان د خبرو تر اغېزې لاندې راځي او چې هر څه هارلان وايي امير يې مني.

دا خو لا په هر صورت. کله چې امير دوست محمدخان، ځو ورځې وروسته، هارلان ته پيغام واستاوه چې غواړي د ده د پوځې مشاور په حيث کار ورسره وکړي. هارلان په جواب کې ورته وليکل چې دی حاضر دی له هغه سره په قدرت کې شريک سي مګر نه غواړي چې خپل شهرت د غلامی په منلو سره خراب کړي. دوست محمدخان ډېر سخت په غوسه سو او ويل يې دا څه سرکښي ده چې دی يې کوي. که د هند لارډ افغانستان ته راسي هم به زما امر مني. خو امير ځکه د هغه د دې مغرور جواب سزا ورنه کړه چې نواب جبار خان د هارلان ملګری وو. (هغه کتاب ص ص ۱۳۹-۴۰)

هارلان تقريباً يو کال په کابل کې د امير دوست محمدخان پر ضد فعاليت کوي او امير، له خپلو ټولو استخباراتو سره، د هغه په مجلسونو او تبليغاتو نه خبريږي. هارلان څه باندي يو کال په کابل کې تېروي او بالاخره ورته معلوميږي چې شاه شجاع د کار سړی نه دی ځکه چې هغه په دې يوه کال کې له لوديانې څخه حرکت نه دی کړی؛ پر افغانستان باندې لښکرکښي خو لا پرېږده. جبار خان ورته وايي چې که په دې يوه سي چې شاه شجاع د انګرېزانو د طلاوو په زور راځي نو دی به يې سمدستي ملګری سي او که د انګرېزانو ملاتړ ورسره نه وي نو دی د خپلې کورنۍ تر ګټو نه سي تېرېدلای. (هغه کتاب ص ۱۴۰)

هارلان د ۱۸۲۸ کال په ژمي کې، له نواب جبار خان سره، جلال آباد ته ځي. هلته ځلور مياشتې پاتيږي؛ هلته هم د امير دوست محمدخان پر ضد له تبليغ څخه لاس نه اخلي او بيا هم امير نه په خبريږي. هارلان له جلال آباد څخه د سيکهانو قلمرو ته ځي او هلته له رنجيت سينګه سره نوکري پيل کوي. په ۱۸۳۶ کال کې له رنجيت سينګه سره خوابدی کيږي او بيرته کابل ته راځي.

د دوی د خوابدی يو علت دا بلل کيږي چې مهاراجا رنجيت سينګه په ۱۸۳۵ کال کې سکته وکړه او مرګ ته نيژدې سو. نو ډاکټر هارلان يې لاهور ته وباله او له هغه څخه يې مرسته وغوښته. هارلان ورته وويل چې مهاراجا ته برقي جټکه لازمه ده او دی د هغه د علاج کولو په بدل کې يولک روپۍ غواړي. (هغه کتاب ص۱۸۴)

رنجيت سينګه د هارلان مشوره ومنله. برقي جټکه يې واخيستله او جوړ سو. خو دا چې هارلان د هغه د علاج په بدل کې د دونه زياتو پيسو غوښتنه کړې وه او ضمناً يې لا دا هم ويلې وه چې د مهاراجا په قول اعتبار نه لري او پيسې دې پېشکي ورکړي نو رنجيت سينګه يې سخت په غوسه کړی وو. سړی نه پوهيږي چې هارلان به دا ياداشتونه، چې مکنټاير د کتاب ليکلو لپاره استفاده ورڅخه کړې ده، ولې ليکلي وي. هارلان ځوک دی چې رنجيت سينګه يې د علاج لپاره لاهور ته غواړي؟ هغه په ژوند کې د طب د پوهنځي يوه صنف ته نه وو تللی. په دې خبرې رنجيت سينګه هم پوهېدی او تر دې چې را تېر سو؛ رنجيت سينګه پخپله يو هوښيار سړی وو او اروپايي باصلاحيته ډاکټران يې درلودل. هغه ځرنګه د دونه خطرناکې ناروغی لپاره داسي سړي ته مراجعه کوي چې هغه په طب خبر نه وي؟

او په زړه پوري خبره دا ده چې له رنجيت سينګه سره د هارلان د اړيکو له خرابېدلو څخه وروسته هغه اميردوست محمدخان ته مراجعه کوي او امير بيا هم سمدستي اعتماد ورباندي کوي او د خپل پوځ د يوه لوی قوماندان په حيث يې مقرروي. هارلان ادعا کوي چې دوست محمدخان يې له سيکهانو سره جنګ ته تشويق کړ او هغه هم د ده مشوره ومنله او د سيکهانو سره يې د جمرود په جنګ کې د هغوی سپه سالار هري سينګه وواژه. هارلان د دې ټولې فتحې افتخار ځانته اخلي او وايي چې رنجيت سينګه چيغې کړې چې دا ټوله د هارلان کار دی او هغه خپل کسات واخيست. (هغه کتاب ص ص ۱۹۲-۹۴)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا ټول هغه چرتونه دي چې هارلان ته د خپل لومړي کتاب د خپرولو څخه وروسته ور پیدا سوي دي او په دوهم کتاب کې، چې راس ورباندي لیکلی دی، هم دا افساني نسته. ښایی هارلان ډېر وروسته دا یاداشتونه لیکلي او یا یې ښایي په کومو مجلو او اخبارونو کې چاپ ته سپارلي وي.
ډېره په زړه پوري خو هغه کیسه ده چې د هزاره جات په باره کې یې خپل پخواني نکل ته انکشاف ورکړی دی. په هغه کتاب کې چې راس د هارلان په باره کې لیکلی دی؛ هارلان وایي د هزاره ګانو مشر ده ته د خپلي سیمي مطلق مشرتوب ور وسپاره. ښایي دا یې وروسته په زړه کې ور ګرځېدلي وي چې باید په هغه سیمه کې یې واده هم کړی وای. پر ځان مین او خود خواه هارلان، دلته ځان له مقدوني سکندر سره مقایسه کوي؛ ځکه چې هغه هم د سغدیاني د واکمن لور رخسانه واده کړې وه. هارلان ته هم د هزاره ګانو مشر محمدرفیع د خپلي لور سره د هغه د واده کولو پیشنهاد کوي او هارلان هم له هغې سره واده کوي. په هغه سیمه کې د هارلان او د محمدرفیع د لور د واده په مناسبت جشنونه کیږي او هارلان رسما د هزاره ګانو زوم کیږي. (هغه کتاب ص ۲۲۶)
زه ګومان نه کوم چې تر نن ورځي پوري، چې د یوویشتمي پېړۍ دریمه لسیزه پر پیل کېدلو ده، هزاره ګانو کوم یهودي ته خپله لور واده کړې وي. خبره خو لا داده چې هارلان دا نه وایی چې بالاخره هغه ښکلي د خان لور څه سوه؟ ده څرنګه هغه پرېښودله او پخپله کابل ته روان سو؟ آیا دا امکان لري چې د هزاره ګانو خان او د هزاره قوم دي یوه یهود ته خپله لور ورکړي او بیا دي نو هغه ته اجازه ورکړي وي چې ناوې پرېږده ستایي په مخه ښه؟ خو څرنګه چې دا ټولي کیسي په خیال او چرت کي جوړي سوي دي نو په زیات منطق هم نه ارزي.
د هارلان په خپلو خاطراتو او د راس په کتاب کې له انګرېزانو سره د هارلان د مخامخ کېدلو په باب چنداني څه نه ویل سوي او دا نه دي ویل سوي چې هارلان څونه موده په کابل کې پاته سو خو د مکنټایر له کتابه څخه ښکاري چې هارلان ښه ډېر وخت په کابل کې پاته سوی دی او له دونه لوی تحول سره سره چې په افغانستان کې راغلی وو هارلان لا په بالاحصار کې په هغه کور کې اوسېدی چې دوست محمدخان ورکړی وو. ده لا انتظار درلود چې د ده د بالاحصار له کوره سره، چې ده ته امیردوست محمدخان ورکړی او دی دوه کاله پکښي اوسېدلی وو، څوک غرض ونه کړي. خو کله چې یوه ورځ ماپښین هارلان له بهر څخه راستنیږي نو ګوري چې هغه کور انګرېزي منصبدارانو اشغال کړی دی او ډاکټر اټکینسن د ده پر نازولي آس باندي سپور دی. هارلان هغه صاحب منصب له آس څخه لاندي راغورځوي. او د پولیسو سرمامور جي ایچ میګریکور ته عریضه کوي. خو ورته لیکي چې دا هیواد انګرېزانو اشغال کړی دی او هر څه یې په هغوی اړه لري. هغه کتاب ص ۲۵۲ هارلان د ۱۸۳۹ کال د اکتوبر پر نونسمه له کابل څخه روانیږي.
دا ټول د هغو ډېرو زیاتو اضافاتو یو لنډیز دی چې د ده په خپلو خاطراتو او د راس په کتاب کې نه دي راغلي. راس او مکنټایر د خپلو کتابونو معلومات له ځانه نه دي جوړ کړي او باید چې د هارلان د یاداشتونو په اساس یې لیکلي وي. مګر سوال دا دی چې دا کار ولي پخپله هارلان نه دی کړی. هارلان د خپلو خاطراتو له خپرولو څخه وروسته تقریباً دېرش کاله نور هم ژوندی وو او کولای یې سوای چې دا ټولي نوري خبري له خپلو خاطراتو سره اضافه کړي.
کله چې سړی د هارلان د خاطراتو او د هغو کتابونو ترمنځ چې هغه هم د ده د خاطراتو په اساس لیکل سوي دي دومره زیات توپیرویني نو د ده پر خپلو خاطراتو باندي هم شکمن کیږي.

پای

مأخذونه

۱: فرهنګ، محمدصدیق. افغانستان در پنج قرن اخیر جلد اول قسمت اول. چاپ سوم ۱۳۷۳.
۲: ریشتیا، سید قاسم. افغانستان در قرن نوزده. چاپ کابل مطبعه دولتي ۱۳۴۶.
۳: غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. دولتي مطبعه کابل افغانستان ۱۳۴۶.
۴: محمود، محمود. تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس در قرن ۱۹. تهران ۱۳۵۳.
۵: عطا محمد، میرزا. نوای معارک. انجمن تاریخ ۱۳۳۱.
۶: کاتب، فیض محمد. سراج التواریخ. کابل مطبعه حروفي دارلسلطنته ۱۳۳۱ هجري قمري.
۷: هروي، محمدیوسف ریاضي. عین الوقایع. تاریخ افغانستان در سالهای ۱۲۰۷- ۱۳۲۴ قمري.
۸: خانیکوف، نیکولای ولادیمیر. سفرنامه خانیکوف. ترجمه ډاکټر اقدس یغمایی و ابوالقاسم بیګناه. ایران ۱۳۷۵ شمسي.
۱۰: تره کی، نور محمد. څړه د کابل چاپ ۱۳۵۷ شمسي.
۱۱: محمد حیات. حیات افغاني. پښتو ترجمه د فرهاد ظریفي او عبداللطیف یاد طالبي. کابل ۲۰۰۷

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

12: Ferrier, J.P. History of the Afghans. London 1858.
13: Bellew, Henry. H. Journal of a Political Mission to Afghanistan. Reprinted in Pakistan 1978.
14: Bellew, Henry. H. From the Indus to the Tigris. Reprint Pakistan 1977.
15: Cotton, Sydney. Nine Years on the North West Frontiers of India from 1854 to 1863.
16: Vigne, G. T. A personal Narrative of a Visit to Ghuzni, Kabul, and Afghanistan. Reprint in Pakistan 1982.
17: Watson, Robert Grant. A History of Persia from the Beginning of the Nineteenth Century to the Year 1858. Reprint in India 2018.
18: Burnes, Alexander. Travels into Bokhara. Vol 2. London .
19: Masson, Charles. Narrative of Various Journeys in Balochistan, Afghanistan and the Panjab 1826 to 1838 Vol 3. London 1842.
20: Kaye, John William. History of the War in Afghanistan Vol 1. First Indian Reprint 1999.
21: Varma, Birendra. English East India Company and the Afghans. 1747-1800, Calcutta India. 1978.
22: Bilgrami, Asghar H. Afghanistan and British India 1793- 1907 India 1972.
23: Sykes, Percy. A History of the Afghanistan Vol 2. First Indian Edition 1981.
24: Gregorian, Vartan. The Emergence of Modern Afghanistan. U.S.A 1969.
25: Elphinstone, Mountstuart. An Account of the Kingdom of Caubul Vol1. Reprint Pakistan 1974.
26: Lumsden, Sir Peter. A Sketch of the Life of Lieut. Gen Sir Harry Burnett Lumsden London 1900
27: Kandahar Newsletters. Directorate of Archives Department Government of Balochistan Quetta Pakistan.
28: Forrest, George W. Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain. London 1909.
29: Aitchison, C.U. A Collection of Treaties, Engagements and Sanads. Relating to India and Neighboring Countries. Vol 13 Calcutta India 1933.
30: Burnes, Sir Alexander. Cabool A Personal Narrative of a Journey to and Residence in the Years 1836-7.
31: Robinson, Captain J.A. Notes on Nomad Tribes of Eastern Afghanistan.
32: Ferrier, J.P. History of the Afghans. London 1858.
33: Correspondence Related to Persian and Afghanistan. London 1839.
34: Sitaram, Edited by James Lunt. From Sepoy to Subedar. London 1873.
35: Hopkirk, Peter. The Great Game, The Struggle for Empire in Central Asia. U.S.A 1992.
36: Harlan, J. A memoir of India and Avghanistaun. U.S.A 1842.
37: Ross, Frank E. Central Asia. Personal Narrative of General Josiah Harlan. London 1939.
38: Mehra, Parshotam. North- Western Frontier and British India 1839-1842. India 1978.

عبدالباري جهاني

شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه, پنځه پنځوسمه برخه

يادونه: د ښاغلی جهانی د ليکنو آرشيف، تاسو کولای شی د دی ليکنې تولي برخی دلته ولولی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ